
مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
یکشنبه د ۱۳۹۹ د تلې ۲۷مه | د ۲۰۲۰ د اکتوبر ۱۸مه | ۶۱۲مه ګڼه
2 017550 139621


## پوهنتون

۴ مخ

### خورشید د لوړو زده کړو موسسه

د استادانو علمي سویه لوړول، په ملي او نړیواله کچه د موسسې علمي کیفیت لوړول، د نورو پوهنځیو ایجادول او له موسسې څخه پوهنتون ته ارتقاع کول د دې موسسې راتلونکي پلانونه دي.



### کرنې وزارت: روان کال به په هېواد کې د جلغوزو په حاصلاتو کې دوه برابره زیاتوالی راشي



د کرنې او مالدارۍ وزارت ویاند اکبر رستمي زیاتوي چې د دوی لومړنۍ څېړنې ښیې چې سږکال به د جلغوزو په حاصلاتو کې دوه برابره زیاتوالی راشي.

د نوموړي په خبره، تېر کال په هېواد کې د جلغوزو حاصلات ۲۳ زره ټنه وو. رستمي وایي، چې خوست، پکتیا، پکتیکا، کونړ او ننګرهار له هغو ولایتونو دي چې پکې د جلغوزو ډېر حاصلات کېږي. د کرنې وزارت دغه راز وایي چې روان کال د جلغوزو حاصلات ځکه زیات شوي چې د پروسس او بازارموندنې لپاره ډېر کار شوی دی.

د یاد وزارت د چارواکو په خبره، تر دې وروسته به د افغانستان په مارک جلغوزي بهر ته صادر شي. دغه وزارت وایي، سږ کال له چین سره د جلغوزو قرارداد شوی او هڅه روانه ده چې له نورو هېوادونو سره هم تړون وشي.

د یادونې ده چې افغانستان هر کال بهر ته د جلغوزو د صادراتو له درکه په میلیونو ډالره عاید ترلاسه کوي.

# د جګړې وېره او پر سوله شکونه؛

## خټک: د سولې تر عنوان لاندې پاکستان له ټولو لارو خپلو موخو ته د رسېدو په لټه کې دی



۳

### ولې باید د ولسمشر مرستیال د کابل د امنیت مسوول شي!؟

۲ مخ

### جنایي پېښې او د زیاتېدو لاملونه یې

۲ مخ

### جګړه؛ د امریکا فشار او د تماس ډلو ناسته!

۳ مخ

## اوبراین: تر راتلونکي میلادي کال پورې په افغانستان کې د سرتېرو شمېر تر ۲۵۰۰ پورې راکموو

د امریکا د ملي امنیت مشاور رابرټ اوبراین وایي، ټرمپ امر کړی تر څو په افغانستان کې د راتلونکي میلادي کال په لومړیو کې د امریکایي سرتېرو شمېر تر ۲۵۰۰ پورې راکم کړي.

تر دې وړاندې د امریکا د پوځ لوی درستیز جنرال مارک میلي د ټرمپ د هغه ټویټ په اړه چې تر راتلونکي کرېسمېس به له افغانستان ټول سرتېري وباسي، ویلي وو چې دا یو حدس او ګمان دی. که څه هم اوبراین ویلي، ټرمپ تر راتلونکي کرېسمېس د ځواکونو د وتلو په اړه امر نه دی کړی، خو وایي، که بین الافغاني مذاکرات ښه پرمخ لاړ شي، هر ولسمشر غواړي چې په کرېسمېس کې عسکر خپل هېواد ته ستانه کړي. دا په داسې حال کې ده چې د طالبانو او امریکا تر منځ د دوحې تړون پر اساس به بهرني ځواکونه د راتلونکي میلادي کال تر مې میاشتې له افغانستان څخه وځي.

په ورته وخت کې امریکا غږ انګلیسي په یوه راپور کې د امنیتي مسایلو له څارونکو او دغه راز د امریکایي حکومت له ځینو چارواکو سره په خبرو کې په افغانستان کې د القاعده شبکې پر فعالیتونو خبرې کړې دي.

په راپور کې راغي چې طالبان لا هم له القاعده شبکې سره اړیکه لري او د دغې ډلې خطرونه په افغانستان کې پر خپل ځای پاتې دي. په راپور کې راغي چې لا هم د کندهار، هلمند او نیمروز په ولایتونو کې تر دوو سوو پورې د القاعده شبکې غړي فعالیت کوي او له طالبانو سره په بېلو عملیاتو کې همکاران دي.

### د غذایي امنیت ائتلاف:

## له ۱۱ میلیونو ډېر افغانان بېړنیو خوراکي مرستو ته اړتیا لري



۵ مخ

## سرپرست وزارت صحت عامه تقرری ها و تبدیلی های غیرقانونی کرده است




سرپرست وزیرصحت عامۀ افغانستان، در حالی ده ها تن را از وظیفه تبدیل، منفک و یا به حیث سرپرست در بخش های مختلف مقرر کرده است که سرپرست وزیر، صلاحیت این چنین اقدامات را ندارد.

سخنگوی وزارت صحت عامه، در حالی تبدیلات در کارکنان پروژه های انکشافی پس از ارزیابی و تقرری ها به حیث وارسی کننده دربست های خالی را از صلاحیت سرپرست وزیر می داند، که سخنگوی رئیس جمهور می گوید به اساس مصوبۀ کابینه، سرپرست وزیر تا زمانی که رای اعتماد ولسی جرگه را اخذ نه کرده باشد، صلاحیت تعیین افراد را ندارد. همچنان یک عضو ولسی جرگه با تاکید می گوید که سرپرست وزیر، صلاحیت تقرری و انفکاک کسی را نمی داشته باشد.

رئیس جمهور؛ احمدجواد عثمانی را در سیزدهم ماه جوزای سال روان، به حیث سرپرست و نامزد وزارت صحت عامه معرفی نموده و درحالی هنوز رای اعتماد ولسی جرگه را نه گرفته است که به اساس قانون سرپرستی، هیچ کس نمی تواند بیش از دو ماه به حیث سرپرست وزیر کار کند.

یک منبع معتبر وزارت صحت عامه که نمی خواهد نامش در گزارش ذکر شود، به آژانس خبری پژواک گفته است که احمد جواد عثمانی، خلاف مصوبه کابینه، شماری از کارکنان این وزارت را تبدیل نموده، تعدادی را به حیث سرپرست و وارسی کننده مقرر کرده و شماری را هم منفک نموده است.




## دریـــغ

### ولې باید د ولسمشر مرستیال د کابل د امنیت مسوول شي!؟

د ولسمشر لومړی مرستیال امرالله صالح وایي چې د کابل ښار د امنیتي ستونزو د حل مسوولیت یې په مستقیم ډول د ځو اونیو لپاره اخیستی دی. هغه وایي چې په کابل کې د خپل ورغوي په شان بلد دی او د خلکو د امنیت لپاره د مصلحت او پر جنایتکارانو د رحم په نوم په خپل قاموس کې څه نه لري. نوموړي دغه راز ویلي چې د غلو، اوباشانو، د خلکو د ځورونکو، باج اخیستونکو، غاصبانو او مکررو مجرمانو لېست تیار شوی او پر ضد به یې گام اخیستل کېږي. نوموړي په دې برخه کې له خلکو د همکارۍ غوښتنه هم کړې ده.

له یوه اړخه ښایي دا خلکو ته یو مثبت خبر وي، ځکه چې په وروستیو کې امنیتي حالت له حده ډېر خراب شوی او له حکومته غوښتل کېږي، چې د دغه ناوړه حالت مخه ونیسي. له بله اړخه دا د اندېښنې خبره ده، چې د کابل ښار د امنیت په شان مسایل مخامخ د ولسمشر د لومړي مرستیال له خوا پر مخ یووړل شي. کابل ښار د پولیسو امنیتي حوزې او د حوزو آمرین لري، بیا امنیه قوماندان لري، بیا کورنیو چارو وزارت دی چې امنیتي معین او وزیر لري او همداسې د ملي امنیت ریاست حوزې او بیا د کابل ریاست او بیا عمومي ریاست شته. کله چې دومره لوی تشکیل او مسوولین وي، بیا د ولسمشر لومړی مرستیال ولې باید راشي او په دې چاره کې ځان دخیل کړي!؟

دا کار دوې اساسي ستونزې لري: لومړی دا چې ښیي له بده مرغه لا هم زموږ چارې پر سیستم نه، بلکې پر افرادو ولاړې دي. که نظم او سیستم وای، نو د امرالله صالح مداخلې ته اړتیا نه وه او د کابل امنیه قوماندانی او بیا کورنیو چارو وزارت باید دا ستونزه حل کړې وی، خو اوس سیستم نشته او فرد باید خپل رول ولوبوي او ستونزه حل کړي. دویمه ستونزه دا ده چې دا کار به ښایي د خلکو ستونزه حل کړي، امرالله صالح به ځان قهرمان وښیي، خو د پولیسو پر حوزو، د حوزو پر آمرینو، امنیه قوماندان او قوماندانی، کورنیو چارو وزارت او چارواکو یې د خلکو باور له منځه وړي. که دغه بنسټونه ناسم وي، نو باید سم شي او که یې چارواکي خپله غله او مفسدین وي او یا نه شي کولی چې د غلو او مجرمینو پر وړاندې مبارزه وکړي، نو بیا خو لومړیتوب دا دی چې دغه چارواکي پر کور کېنول شي او پر ځای یې وړ کسان وگومارل شي. که ستونزه دا وي چې دا چارواکي صلاحیت نه لري، باید صلاحیت ورکړل شي او که بله هره ستونزه وي، باید هغه حل شي. هر چارواکی او بنسټ باید خپله خپل کار وکړي او نور کسان باید پکې مداخله ونه کړي. اوس دا کوم کمال او سم کار نه دی چې امرالله صالح د خلکو امنیت ونیسي، بلکې کمال او سم کار دا دی چې د پولیسو او امنیت بنسټونه اصلاح شي، وړ کسان وگومارل شي او بیا هغه د خلکو د امنیت د خوندیتوب دنده په ښه ډول تر سره کړي.

له بده مرغه د حکومت اوسني مشران لا هم حکومتي بنسټونه بې باوره کوي، تخریبوي یې، ناوړه او مفسد کسان گوماري او بیا په کوچنیو مسایلو کې د مداخلې له لارې د ځان د قهرمان ښودلو ننداري وړاندې کوي. دوی په دې ډول خلکو ته خدمت نه، بلکې خیانت کوي او موږ لا زیات ناوړه حالت ته وړي.

# جنايي پېښې او د زياتېدو لاملونه يې

لیکنه: د ستراتیژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز

له تېرې یوې میاشتې راهیسې د پلازمینې کابل په گډون، د هېواد په ځینو ولایتونو کې د جنایي پېښو گراف اوج ته رسېدلی او خلک یې له سختې وېرې سره مخ کړي دي. بلخوا د جنایي پېښو له زیاتېدو سره د کورنیو چارو وزارت چارسمبالي ښاغلي مسعود اندرابي چې د میزان میاشتې په ۱۹مه یې د کابل له پنځمې حوضې لیدنه کوله، وویل: له دې وروسته دې مجرمین د قانون په رڼا کې له پښو وغورځول شي او د هغوی د ویشتلو امر یې ورکړ. دا چې په کابل او ولایتونو کې ولې جنایي پېښې مخ پر زیاتېدو دي، د CSRS په دې تحلیل کې مو په همدې تړاو لیکل کړي دي.

افغانستان او جنایي پېښې

له ۲۰۰۱ کال را وروسته چې بهرنیو ځواکونو پر افغانستان تېری وکړ، په لومړیو کلونو کې ځینو افغانانو له داخلي او بهرنیو ادارو سره دندې تر سره کولې. له دې سره اقتصادي فعالیتونه زیات شول او د کار او مزدورۍ فرصت ډېرو افغانانو ته په لاس ورغی؛ خو کله چې یادو ادارو خپل فعالیتونه په افغانستان کې یا وځنډول او یا یې بند کړل؛ جوخت ورسره اقتصادي فعالیتونه هم کم شول. ډېری افغانان له بېکارۍ سره مخ شول او سختو اقتصادي ستونزو وځپل. ځینې داسې کسان هم وو چې د مصرف او سپما انډول ساتلو په برخه کې یې ستونزې درلودې او کله چې بیرونیو ادارو په افغانستان کې خپل کاري فعالیتونه پرېښودل، له پرېښودو سره سم یې یادو کسانو د خپل مصرف لپاره کافي عاید نه درلود، نو هغوی اړ شول څو هغه غیر قانوني لارې غوره کړي، چې د هغوی د مصرف پوره کېدو لپاره گټورې ثابتېدلی شي. بل دا چې د بهرنیو ځواکونو له راتگ سره ځینې افغانان چې په لوړو معاشونو یې کارونه کول، په نشه‌یي توکو لکه، شرابو، ټابلیټ کا، پوډرو او چرسو چې له دې وړاندې د هېواد په کچه ډېر معمول نه وو، اخته شول. پر همدې بنسټ د احصایوي شمېرو له مخې، د هېواد په کچه له دریو میلیونو وگړو زیات پر نشه‌یي توکو اخته پېژندل شوي دي.

دا چې د افغانستان اقتصاد تر ډېره پر بیرونیو مرستو ولاړ دی، او بیروني مرستي شرایطو ته په کتو د پخوا په پرتله ډېرې کمې شوې دي، چې له دې کار سره د بېکارۍ کچه هم لوړه شوې، کومه چې د جنایي پېښو له زیاتوالي سره مستقیمه اړیکه ځکه لري، چې خلک اړ دي څو د خپل ورځنې ژوند تېرولو لپاره جنایي پېښې لکه غلا، تښتونې او وژنې تر سره کړي.

له ۲۰۰۱ کال را وروسته په افغانستان کې د جنایي پېښو زیاتوالی چې په هغو کې د بهرنیو اتباعو په گډون، د هېواد په کچه د پانگوالو تښتونې یادولی شو، له ۲۰۰۵ کال تر ۲۰۰۸ کال پورې په بې سارې توگه زیاتې شوې دي. له هغې وروسته ۲۰۱۴ او ۲۰۱۸ بیا هغه کلونو یادولی شو چې د جرمي کارونو لکه غلاوو، تښتونو او وژنو فعالیتونه پکې اوج ته ورسېدل او له هغې وروسته دا لړۍ ښه په زور کې را روانه ده. که په افغانستان کې د جرمي پېښو لاملونو ته وکتل شي، په هغو کې نشه‌يي توکي، اقتصادي، سیاسي او امنیتي ستونزې، په ښه توگه د قانون نه پلي کېدل او په اداراتو کې د فساد پراخه شتون د هغو لاملونو په توگه یادولی شو، چې جنایي پېښې ورسره زیاتې شوې دي.

په دې وروستیو کې لیدل کېږي چې د کابل په کچه چې د ولایتونو په پرتله یې امنیت ښه گڼل کېږي، له عامو خلکو څخه د قیمتي توکو، موبایل او پیسو په زور اخیستنې زیاتې شوې دي او خلک له سختې وېرې سره مخ شوي؛ مگر امنیتي ادارو تر دې مهاله د کابل په امنیت کې کوم د پام وړ تغیر را نه وست، تر دې چې کابل مېشتو وگړو په ټولنیزو رسنیو (کابل امن نه دی!) پراخه کمپین وکړ او حکومتي چارواکي بیا اړ شول، چې د ثرگندونو په کچه خلکو ته ډاډ ورکړي چې د هغوی امنیت خوندي کېدو لپاره هڅې کوي، خو په عمل کې څه نشته.

د کابل امنیه قوماندانۍ مسوولینو په خبره، په تېرو ۲۰ ورځو کې په کابل کې ۱۴۶ جرمي پېښې شوې، چې په همدې تړاو یې ۱۳۳ تورن کسان نیولي هم دي، چې په غلا، وژنو، تښتونو، د مخدره توکو خرڅولو، غصب او اخلاقي جرمونو تر سره کېدو کې یې لاس درلود.

د کورنیو چارو وزیر ښاغلي مسعود اندرابي چې د جرمي پېښو له زیاتېدو وروسته یې د کابل له ځینو امنیتي حوزو لیدنې پیل کړې، امنیتي ځواکونو ته د دې سپارښتنه هم کړې چې له دې وروسته دې مجرمین د حوزو پر ځای مستقیماً د کورنیو چارو وزارت قرارگاه او کابل امنیې قوماندانۍ ته یوسي، څو د څېړنو په پایله کې د کلیدي افرادو او ډلو په پیدا کولو کې ترې گټه واخیستل شي.

جرمي پېښې څنگه کمېدلی شي؟

د نړیوال وجهي صندوق وروستي راپور له مخې، افغانستان په روان ۲۰۲۰ کال کې د کووید-۱۹ وبا له امله سخت وځپل شو او منفي پنځه سلنه اقتصادي وده یې درلوده، بلخوا له افغانستان سره د ۲۰۱۴ کال بروکسل کنفرانس له مخې په ملکي او نظامي برخه کې د نړیوالې ټولنې مرستې د روان کال تر پایه تنظیم شوې وې او تمه ده چې یاد راتلونکی کنفرانس په نومبر میاشت کې له افغانستان سره د نورو مرستو تر سره کېدو په پار تر سره شي.

افغان حکومت چې له یوې خوا د طالبانو له لوري له پراخو امنیتي گواښونو سره مخ دی او بلخوا روان بد اقتصادي وضعیت د ښه کېدو لپاره د نړیوالو مرستو پر جلبولو باندې بوخت دی، په همدې لړ کې د هېواد په کچه د جرمي پېښو زیاتوالي لاپسې اندېښمن کړی او داسې هم انگېرل کېږي چې د روانو جرمي پېښو تر شا لوی لاسونه دي، ځکه په یو ځل د جرمي پېښو زیاتوالي د حکومت او ولس تر منځ بې باوري اوج ته رسولې او عام وگړي امنیتي اداري په دې تورنوي چې گواکې له غلو او د جرمي پېښو له تر سره کوونکو سره لاس لري.

که څه هم افغان حکومت د روان کال سرطان میاشتې په ۲۴مه د کابل د امنیت ښه کېدو لپاره د خلکو له زیاتو غوښتنو وروسته د میثاق امنیتي په نوم چې د حکومت او خلکو د همکارۍ په ترځ کې رامنځ ته کېدونکې برنامه وه، د تنظیمولو اعلان وکړ، خو لیدل کېږي چې یاده برنامه یوازې د ثرگندونو تر حده پاتې شوې او هېڅ کومه ښه پایله نه لري. په دې وروستیو کې د ولسي جرگې رییس یاده برنامه یوه ناکامه برنامه یاده کړه او د نورو پراخو مثبتو بدلونونو غوښتنه یې وکړه.

که افغان حکومت په رښتینې توگه غواړي چې د هېواد په کچه د جرمي پېښو گراف راښکته کړي، نو د عامو خلکو د اقتصادي وضعیت د ښه کېدو لپاره دې برنامې جوړې او بیا د عمل تر حده ورسوي، ځکه بېکاري او د جرمي پېښو زیاتوالی مخامخ تړاو لري. افغان حکومت کولی شي بېکاري د کلیدي موضوع په توگه بروکسل کنفرانس ته وړاندې کړي، څو د نړیوالې ټولنې مرستې په همدې تړاو تر لاسه کړي.

افغان حکومت چې په داخلي کچه د جرمي پېښو د کموالي لپاره بل کوم گام پورته کولی شي، هغه د نشه‌یي توکو د پلورونکو مخنیوی دی، که چېرته د دې ناوړه خرڅلاو مخه ونه نیول شي، ښایي پر همدې نشه‌یي توکو د اخته کسانو له امله هم کابل ښاریان په ښار کې د تگ راتگ له سختو خنډونو سره مخ شي، ځکه پر نشه‌یي توکو د اخته کسان شمېر ورځ په ورځ مخ پر زیاتېدو دی او حکومت یې پر وړاندې هېڅ ډول اغېزمن گامونه نه پورته کوي. زیاتره پر نشه‌یي توکو اخته کسان د نشه‌یي توکو تر لاسه کولو لپاره اړ کېږي، څو له خلکو څخه په زور قیمتي توکي واخلي، تر دې چې ځینې کسان د همدې کسانو په لاس ټپیان او یا هم وژل شوي دي.

هغه کسان چې جرمي پېښې تر سره کوي او له خلکو موبایل او نور قیمتي توکي په زور اخلي، هغوی د منظمو گروپونو په توگه فعالیت کوي، حکومت اړ دی څو د موبایل او سیمکارت ثبتولو لړۍ ژر تر ژره پیل کړي، ځکه هغه کسان چې هره ورځ له خلکو په زور موبایل او نور قیمتي توکي اخلي، په ډېرې آسانۍ کولی شي د کابل په بازارونو کې غلا شوي توکي وپلوري.

امنیتي اداري تر هغو نه شي کولی په ښه توگه امنیت تامین کړي، څو چې د خلکو ملاتړ له ځان سره ونه لري، د امنیتي ادارو او خلکو تر منځ بې باوري او نه ملاتړ هغو کسان ته یو لوی فرصت په لاس ورکړی، چې جرمي پېښې تر سره کوي. عام وگړي اندېښمن دي چې د جرمي پېښو تر سره کوونکي چې کله امنیتي ادارو ته وسپاري، هغوی یې بېرته خوشې کوي، حکومت اړ دی چې په امنیتي ادارو کې پراخ مثبت بدلونونه راولي او یوازې دا کار چې د امنیتي ادارو کسان له یو ځایه بل ځای ته تبدیل کړي، نه یوازې د جرمي پېښو کموالي کې رول نه لري؛ بلکې هغو امنیتي کسانو ته چې د جرمي پېښو په ترسراوي کې لاس لري، نور هم د دې جرئت ورکوي چې د جرمي پېښو لړۍ نورو ځایونو ته په آسانه توگه انتقال کړي.

له دې پرته د سزا په کوډ کې ځینې ستونزې شته، د بېلگې په توگه، د څارنوالۍ او امنیتي ادارو لخوا د قانون په پلي کولو کې نه همغږي، په دې توگه کله چې پولیس تورن کس ونیسي، څارنوالي یې هسې خوشې کړي یا یې د کمې مودې بند په بدله کې بېرته خوشې کوي، چې دلته د قانون کمزورۍ په پایله کې د جرمي پېښو تر سره کوونکو ته د لا ډېرو جرمي پېښو تر سره کولو جرئت ورکوي. د هغو پېښو چې لا تر څارنوالۍ نه رسېږي، خو لا بېل حساب دی.

که حکومت د روانو جرمي پېښو کموالي په برخه کې اغېزمن گامونه پورته نه کړي، نو په حکومت د بې باورۍ په لړ کې ښایي ډېر کم پانگوال چې لا په هېواد کې شته، هم خپلې پانگې له هېواد څخه گاونډي هېواد پاکستان ته په دې پار انتقال کړي چې هلته په دې وروستیو کې افغانانو ته د ځانگړې پانگونې په صورت کې د زیاتې مودې ویزې او نورو امتیازاتو وړاندیزونه شوي، چې له دې کار سره د هېواد روان اقتصادي وضعیت نور هم خرابېدلی شي.

د دې لپاره چې حکومت د جرمي پېښو د کموالي په برخه کې لاسته راوړنې ولري، باید د جرمي پېښو د تر سره کوونکو کلیدي افراد په گوته کړي او سخته سزا ورکړي، څو د وېرې فضا ختمه او د کابل ښاریانو په گډون د هېواد د نورو ولایتونو عام وگړي په ډاډه توگه خپل ژوند ته دوام ورکړي.

# جګړه؛ د امریکا فشار او د تماس ډلو ناسته!

لیکنه: محمد طارق صابر

په وروستیو کې طالبانو پرغلیز بریدونه ډېر کړي. د هلمند خونړۍ جګړه لا هم پای ته نه ده رسېدلې. له دې سره طالبانو په جوزجان، بغلان، زابل، میدان وردګو او ځینو ولایتونو کې افغان ځواکونه په نښه کړي او وژلي دي. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو سیاسي استازولۍ (یوناما) ویلي چې د هلمند جګړې ۳۵ زره کسان بې مېنې کړي او مرستو ته اړ دي. ناټو روان تاوتریخوالی په تېرو لسو کلونو کې بې ساري بللی او پر طالبانو یې غږ کړی چې د دوحې له هوکړې سره سم دې تاوتریخوالی کم کړي. امریکا له طالبانو سره د فبرورۍ په ۲۹مه د سولې هوکړه لاسلیک کړه او له دې ډلې سره یې منلې چې خپل ځواکونه به له افغانستانه وباسي.

له دې سره هممهاله، د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد او د غوڅ ملاتړ ماموریت عمومي قوماندان جنرال سکاټ مېلر، له طالبانو سره کتلي دي.

د حکومت او طالبانو تماس ډلو، له څو ورځنۍ وقفې وروسته ناسته وکړه او پرېکړه یې کړې چې ژر تر ژره باید پر اجنډا هوکړې ته ورسېږي، څو رسماً مذاکرات پیل شي.

حکومتي لوري چې کومې غوښتنې له طالبانو کړې وې، سور ځراغ یې ورته ښکاره کړ، د سولې په درشل کې یې له نظامي فشار کار واخیست، څو ځان ځواکمن وښیي او په مذاکراتو کې ډېر څه تر لاسه کړي. حکومت هم پر طالبانو ځوابي بریدونه وکړل، چې د دواړو لورو په بریدونو کې ملکي وګړي ډېر زیانمن شوي دي.

دا چې د دواړو لورو د تماس ډلو ناسته وکړه؛ دا د امریکا د فشار نتیجه وه. امریکا غواړي په افغانستان کې یو ځل بیا عامه ذهنیت خپل کړي او خلکو ته وښیي چې که امریکا نه وي، افغانان په خپلو کې یو بل وژني او ځمکه پر سور اور بدلوي. له بله اړخه په امریکا کې ولسمشریزې ټاکنې په رارسېدو دي. ټرمپ د ۲۰۱٦ کال په ټاکنو کې له امریکایانو سره ژمنه کړې وه، چې امریکایي پوځیان به د افغانستان له نامعلومې جګړې وباسي. له همدې امله هم امریکا په دواړو لورو فشار راوړ، څو مخکې له ټاکنو یوې پایلې ته ورسېږي.

په دې اړه ان بي سي نیوز هم خبر ورکړی چې ټرمپ د سرتېرو په ایستلو کې جدي دی او مخکې له ټاکنو به د خپل بهرني سیاست په اړه خبرې وکړي.

نیویارک ټایمز بیا د اسیا د چارو شنونکي ډانا ستېرول له قوله لیکلي، چې ټرمپ د خپلو خلکو د غولولو هڅه کوي او د امریکایي ځواکونو وتل له افغانستانه عملي نه برېښي.

دغه راز هغو شپږو سفیرانو چې په افغانستان کې یې دندې تر سره کړې وې، د ټرمپ له اداري غوښتې چې غیر مسوولانه ځرګندونې ونه کړي. دوی وایي، که له افغانستانه امریکایي ځواکونه په بېړه ووځي، افغانستان او د امریکا ملي امنیت ته لوی ګواښ دی.

پنټاګون هم له سپینې ماڼۍ سره د ځواکونو د وتلو پر سر جدي اختلافات لري.

داسې ښکاري چې امریکا هممهاله په افغانستان کې دوو جبهو ته اړتیا لري: جګړه او سوله. له یوې خوا باید په هېواد کې د جګړې اور ګرم وي، څو امریکا خپل شتون توجیه کړي او له بلې خوا طالبان او حکومت په یوه نیم بنده سوله راضي کړي، چې عامه افکار خپل کړي. امریکا نه له خپلو وګړو سره رښتینې ده او نه له افغانانو سره.

دغه هېواد تر اوسه په جګړه کې ټریلیونه ډالره لګولي او تر دوو زرو زیات سرتېري یې په افغانستان کې وژل شوي دي. د افغانستان ستراتیژیک موقعیت ته په کتو سره، ګرانه ده چې امریکا دې په یوه هوکړه ووځي. دغه هېواد د تاریخ په اوږدو کې ډېرې نړیوالې هوکړې نقض کړې، هېڅ تضمین نشته چې له ټاکنو وروسته به له طالبانو یا حکومت سره وفاداره پاتې شي. امریکا ماتې خوړلې او غواړي چې د حکومت او طالبانو د اختلافاتو تر شا یې پټه کړي او د خپل شتون لپاره یې غوره توجیه بولي.

که څه هم د هلمند جګړه کورني او سمیه ییز لاملونه لري، خو له ټولو څخه امریکا له یادې جګړې ډېره ګټه اخلي او نړیوالو ته ښکاره کوي، چې افغانان په خپلو کې ستونزې لري او د افغانستان په مسئله کې ګرم نه دي. په داسې حال کې چې د ټولو ستونزو شا ته مستقیم او غیر مستقیم د امریکا لاس دی.

که طالبان غواړي چې پر حکومت فشار راوړي، د مذاکراتو مېز یې ښه ځای دی. نظامي فشار یوازې د مظلوم ولس په زیان دی، ځکه پکې قرباني او وژل کېږي. د امریکا هڅو، صداقت او کړنو ته باید د شک په سترګه وکتل شي. دوی ته یوازې خپلې ګټې ارزښت لري. که طالبان فکر کوي چې امریکا به هوکړه عملي کړي او له افغانستانه به ووځي، دا د حیرانتیا وړ خبره ده!

# د جګړې وېره او پر سوله شکونه؛

## ختک: د سولې تر عنوان لاندې پاکستان له ټولو لارو خپلو موخو ته د رسېدو په لټه کې دی



په افغانستان کې د سولې د روانې پروسې په اړه د شکونو او اندېښنو په دوام، تازه د پښتونخوا وتلي سیاستوال افراسیاب ختک وایي چې د سولې روان بهیر د پاکستان او طالبانو په ګټه دی او امریکا په لوی لاس افغان حکومت له دې بهیر ګوښه کړی دی. افراسیاب ختک په یوه نوې لیکلې مقاله کې ویلي، چې په راولپنډۍ کې پاکستاني جنرالان هر څه په خپله ګټه تنظیموي او لا هم د افغانستان د جګړې او سولې مسایل هلته مطرح کېږي. نوموړي ویلي چې امریکا په لوی لاس طالبانو ته امتیازات ورکړي او هیله لري چې د دوی په وسیله په سیمه کې ستر قدرتونه وګواښي.

نږدې یوه میاشت کېږي چې په دوحه کې د بین الافغاني خبرو بهیر پیل شوی دی؛ خو دواړه لوري لا هم د مذاکراتو لپاره پر کړنلاره هوکړې ته نه دي رسېدلي. تر څنګ یې بیا په افغانستان کې جګړې خونړۍ شوې دي او هره ورځ له افغان انسان تلفات اخلي. بلخوا په سیمه ییزه او نړیواله کچه هم د افغانستان د سولې په اړه شکونه او اندېښنې ډېرې شوې دي. تازه د پښتونخوا وتلي سیاستوال او پخواني سناتور پر افغان سوله یوه مقاله خپره کړې ده. نوموړي ویلي چې د افغانستان د سولې اوسنی بهیر د پاکستان او امریکا په لاس کې دی او هر څه د پاکستان په ګټه مخ ته روان دي. د ده په خبره، طالبان د بین الافغاني مذاکراتو د پیل لپاره د امریکا او طالبانو توافق اساس ګڼي، په داسې حال کې چې دغه توافق ډېرې حقوقي ستونزې لري. د نوموړي په خبره، په دې تړون کې طالبان ترهګر نه دي یاد شوي، د دوی پر وړاندې د جګړې کولو خبره نه ده شوې او همدا راز د افغان حکومت رسمیت نه دی پکې یاد شوی. ختک زیاتوي، دا هر څه امریکا په لوی لاس کړي دي او اوس چې جګړو زور اخیستی، امریکا د طالبانو پر وړاندې پټه خوله ده.

افراسیاب ختک دغه راز په خپله مقاله کې وایي چې طالبان د افغانستان پر لرو پرتو سیمو واکمن دي؛ خو لا یې هم مهم مشران په پاکستان کې دي او د دې ډلې پټنځایونه لا هم فعال دي. د ده په خبره، په افغانستان کې د روانې جګړې او سولې ډېری مسایل تر دې دمه په راولپنډۍ کې د پاکستاني جنرالانو له لوري مطرح کېږي او دوی په دې باور دي چې طالبان به واک ته رسېږي او د دوی په وسیله به اسلام اباد په افغانستان کې خپلې موخې وپالي.

ختک وایي: ((پاکستاني جنرالانو داسې فضا جوړه کړې چې پر افغانستان خپل نفوذ وساتلی شي. په راولپنډۍ کې پاکستاني جنرالان په دې فکر دي چې کولی شي د سیاسي توافق پر مټ په افغانستان کې خپلې ګټې وپالي. د واشنګټن له لوري دا هڅې د پاکستان لپاره ستر نعمت دي چې غواړي طالبان د افغانستان په حکومت کې ورګډ کړي. په دې توګه په افغانستان کې سني ټولنه پیاوړې کوي چې شیعه اخوندي نظام په ایران کې دفع کړي)).

ختک همدا راز وایي، پاکستان په دې تمه دی چې په خپله خاوره کې فعالې ۳۵ زره مدرسې افغانستان ته ولېږدوي او په دغه هېواد کې یې فعالې کړي، څو په افغانستان کې طالباني فکر لا پیاوړی او په پراخه کچه تولید شي. د ختک په خبره، پاکستان په دې توګه ځان ته امن راولي، خو په مقابل کې یې په ټوله سیمه کې د تشدد او تاوتریخوالي د پیاوړتیا لپاره هڅه کوي.

د پښتونخوا دغه وتلي سیاستوال ویلي چې د پاکستاني جنرالانو په خطرناکه لوبه افغانستان ورو ورو د ۹۰یمې لیسیزې پر لور ځي او اسلام اباد هڅه کوي په هره توګه چې وي، په افغانستان کې خپله لوبه مخ ته یوسي. ده ټینګار کړی چې پاکستاني سیاست دمګړۍ د افغانستان پر وړاندې خورا ورانوونکی دی او پاکستاني جنرالان له ټولو ممکنو لارو هڅه کوي، چې لوبه د دوی په لاس کې وي او خطرناکو فعالیتونو ته ادامه ورکړي.

هغه همدا راز ویلي چې په افغانستان کې د ملي پاله شخصیتونو پر وړاندې هم د پاکستان دسیسې روانې دي او پاکستاني استخبارات هڅه کوي چې پر طالبانو د اسلامي حکومت په مقابل کې اوربند ومني او تر هغه وروسته هغه کسان د هند د ملاتړ په تور له حکومته ګوښه کړي، چې ملي فکر لري او د پاکستان ضد دي. د دې تر څنګ افراسیاب ختک خبرداری ورکړی، چې که د پاکستان او امریکا اوسنۍ تګلاره همداسې دوام کوي، نو دا به نه یوازې دا چې په افغانستان کې جګړې کمې نه کړي؛ بلکې لا به یې خونړۍ کې او پاکستانی پوځ به خپلو موخو ته ورسوي. هغه هیله ځرګنده کړې چې په افغانستان کې د دایمي ثبات لپاره پاکستان او امریکا خپله اوسنۍ تګلاره بدله کړي او پر ځای یې د عامو افغانانو او ملي پاله سیاستوالو نظریاتو ته درناوی وکړي.

# راپورونه: د اذربایجان او ارمنستان ترمنځ په تازه نښتو کې ۵۲ کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده


د راپورونو له مخې، په اذربایجان کې چارواکي وایي چې د ارمنستان د میزایلو په بریدونو کې لږ تر لږه ۱۲ تنه وژل شوي او ۴۰ نور ژوبل دي. د اذربایجان دفاع وزارت وایي، چې د ارمنستان له بېلابېلو سیمو څخه د اذربایجان د «ګانجا» او «منګاشوییر» په ښارونو د میزایلو بریدونه شوي دي، خو د ارمنستان چارواکو بیا په دې اړه څه نه دي ویلي.

په اذربایجان کې مختلفو سرچینو ویلي چې په دغو بریدونو کې د «ګانجا» په ښار کې لږ تر لږه ۲۰ ودانۍ زیانمنې شوې دي. دا د دغه هېواد تر ټولو لوی ښار بلل کېږي.

د یادونې ده چې د اذربایجان او ارمنستان ترمنځ د سپټمبر له ۲۷ راهیسې جګړه روانه ده. دواړه هېوادونه د ناګورنو قره باغ د سیمې د مالیکت دعوه لري او د دې سیمې پر سر یې څو ځله خونړۍ جګړې هم کړې دي.

دغې سیمې د پخواني شوروي اتحاد له ړنګېدو وروسته په ۱۹۹۱ز کال کې له اذربایجان څخه خپلواکي اعلان کړه چې ورسره سم جګړه پیل شوه او تر ۱۹۹۴ پورې پکې له دری زرو ډېر کسان ووژل شول، خو نړیوالې ټولنې د دغې سیمې خپلواکي په رسمیت نه ده پېژندلې. د یادې سیمې پر د دواړو هېوادونو ترمنځ په تازه نښتو کې څه باندې ۵۳۰ تنه وژل شوي او سلګونه نور ټپیان دي.

په ورته وخت مهال د ملګرو ملتونو امنیت شورا د اذربایجان او ارمانیا ترمنځ د روانې جګړې د ژر تر ژره دربدو غوښتنه کړې ده. د راپورونو له مخې، د ملګرو ملتونو امنیت شورا په خپله غونډه کې په ناګورنو قرباغ کې د روان وضعیت په اړه خبرې کړې دي. په دې غونډه کې پرېکړه شوې چې امریکا، فرانسه او روسیه به د ارمانیا او اذربایجان ترمنځ د ستونزې د حل لپاره هڅې کوي. یادو درې واړو هېوادونو ژمنه کړې چې د ستونزې د حل لپاره به اقدامات کوي او موخه یې دا ده چې د دواړو لورو ترمنځ اوربند تامین او رامنځ ته شوې ناندرۍ د خبرو له لارې ختمې شي. تر دې وړاندې روسیې هم د دواړو لورو ترمنځ اوربند رامنځ ته کړ، خو اوربند یوازې څو ساعته دوام وکړ او جګړې له سره پیل شوې او دواړې خواوې یو او بل د اوربند پر نقض تورنوي.




## د کتاب خبرې

# د جاسوسۍ پېښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددوراني او ادېتيا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### لومړی برخه
### د زیمنې برابرول




په لندن کې د خپرېدو له کبله د دولت کتاب هم په زړه پورې و. یو شمېر هندیان او پاکستانیان د مخکتنې په غونډه کې حاضر وو. په دوی کې هغه پاکستاني پوهان هم شامل وو، چې له ځینو سره یې ما ښامنۍ خوړلې وه. یوه یې ماته مسیج وکړ: موږ د کتاب د مخکتنې په پروگرام کې یو او په کوم آرام او خندوونکي انداز چې د RAW پخوانی مشر خبرې کوي، موږ ته له تا سره ناسته را یادوي. موږ فکر کوو چې د ورته شالید لرونکی ښايي همداسې یوه پروژه پلې کړي. که زموږ ګډ کار پام خپلولی او په خلکو کې لېوالتیا پیدا کولی شوای، نو موږ هم کولی شوای چې په ځینو موضوعاتو نظر ورکړو. که یو کس فرصت درلودای چې خپلې خبرې څومره چې ممکنې دي سپینې او رښتوني وکړي، پرته له دې چې دفاعي یا تهاجمي حالت خپل کړي، دا پروژه نو بیا په تعقیب ارزېدله.

اې. اېس دولت: موږ دوې مقالې لیکلې وې. ځینې خلکو موږ وهڅولو: تاسې داسې ښکارئ چې له یو بل سره آرام یئ، نو ولې لیکل نه کوئ؟ راځئ د ډېر جدي کار هڅه وکړو. موږ هم د استخباراتي همکارۍ په اړه ولیکل. لکه جنرال صېب چې وویل: کله چې مسلکیان سره کیني، دوی نظرونه تبادله کوي. زه موافق یم، چې باید تر یوه بریده د آرامۍ حس موجود وي.

زموږ شخصیتونه توپیر لري. له دې پرته چې دواړه د استخباراتي ادارو غړي یو، زموږ شالیدونه سره بېل دي، خو ځینې شباهتونه او ورتوالي هم شته. موږ دواړه تلوېزیون نه ګورو. ما درک کړه چې هغه ډېر آرام دی. تر دې وړاندې ما فکر کاوه زه یوازینی آرام کس یم. دا شی تاسې ته آرامي درکوي. په زړه پورې خو دا ده چې دی تر ما مشر دی. له (Track-II) څخه زما هیله همدا وه چې د ISI له غړو څخه یو څوک ووینم، هغه وو چې دی مې ولید. دا یو لوی فرصت و، ځکه ما نه غوښتل ټول وخت مې یوازې له ډیپلوماتانو سره د ویسکۍ پر څښلو تېر کړم. ما غوښتل چې د خپل مسلک په اړه هم خبرې وکړم.

زه لومړی ځل د (۲۰۱۰. ز)کال په جنورۍ کې د ( Balusa Group) د ناستې لپاره پاکستان ته لاړم. د دې زمینه سلمان حیدر برابره کړه. کله چې لاهور ته ورسېدم، لومړی شی چې ما له جنرالانو وپوښتل دا وو، چې د ISI له کسانو کوم یو په لاهور کې ژوند کوي او که نه. په همدې بڼه مې وویل.

دوی وویل نه، ته باید پنډۍ یا لږ تر لږه اسلام‌اباد ته لاړ شې.( که دې موږ ته ویلي وای، ښايي دا مو هم تنظیم کړې وای).

وروسته زه له جنرال صېب سره مخ شوم.

دوراني: په بنکاک کې د ترهګرۍ په اړه (Chao Pharya Dialogue) یوه ناسته موږ دواړو رهبري کړه.

دولت: ما غوښتل ځینې خبرې وکړم، خو دا زما لومړی ځل و. غوښتل مې تر عادي حالت ډېر صادق و اوسم، خو خبرې رانه اوږدې او بې ربطه شوې. ده بیا د نیابتي جګړو په اړه او دا چې څنګه دا وسیله د استخباراتو لپاره مشروع ده، سپینې خبرې وکړې.

د چای د دمې پر مهال ما وویل: جنرال صېب، د نیابتي جګړو په اړه څه وایې؟

هغه وویل: ولې؟ تاسې نیابتي جګړې نه کوئ؟ په بنګلدېش کې مو څه وکړل؟ (موکتي واهیني) څه و؟


سرې رک او راست و. ما وویل: ( نه ښاغلیه زه پوهېږم.) زه نور پوه شوم. په لومړنیو څو ناستو کې د (ویکي سود) په ګډون موږ درې واړه وو او د ښو وختونو په اړه به مو سره خندل. جنرال صېب وویل چې عمومي ناستې به دوام کوي، خو موږ درې واړه باید بېلې خبرې هم سره وکړو. درې واړه د ویسکۍ له ګېلاسونو سره کېناستو او خبرې مو ډېرې په صداقت او پرانیستې توګه پیل کړې.

زه د ده خبرو حیران کړی وم. جنرال داسې څه ویل چې په واقعیت کې ما یې فکر هم نه شوای کولی، ځکه (پیریان) یعنې جاسوسان په اسانۍ خبرې نه کوي. دغه راز د ISI د پخواني مشر لپاره هم آسانه نه وه چې صادقانه خبرې وکړي. حتی ویکي هم حیران و. دویمې ناستې ته ویکي د اروپا شنو څړځایونو ته تللی و. موږ یوازې پاتې وو او په همدې وخت کې یوه ځانګړې اړیکه جوړه شوه.

په (۲۰۱۱. ز)کال په اسلام‌اباد کې مو چې کله د جنرال صېب له موټر څخه (بلک لېبل) ویسکي را واخیستل او زما په کوټه کې مو وڅښل، ده وویل: که مو پوهاوی درلودی، حالت به څنګه و. د بېلګې په توګه، که د ممبیيي پېښه بیا رامنځته کېدلی، داسې یو پوهاوی به موجود و چې هند باید غچ اخیستی وای او دا مدیریت کېدلی هم شوی. هند هغه څه کولی شوای چې لومړي وزیر نرېندرا مودي وکړل، (هدفمند عملیات). **دوام لري...**

# خورشید د لوړو زده کړو خصوصي موسسه

حمیدالله حمیدي



خورشید د لوړو زده کړو خصوصي موسسې په ۱۳۹۳ کال کې له لوړو زده کړو وزارت څخه د فعالیت جواز تر لاسه کړی، خو رسمي چارې یې بیا په ۱۳۹۴ کال کې پیل کړې دي.

د خورشید د لوړو زده کړو خصوصي موسسې علمي مرستیال ښاغلی جمال الدین وايي، چې د لوړو زده کړو دغه موسسه تر اوسه پورې دوه پوهنځي(اقتصاد او حقوق) لري. دی وايي، دا چې د لوړو زده کړو وزارت د ولسمشر په امر په خصوصي پوهنتونونو کې د نویو پوهنځیو تاسیس ځنډولی دی، نو دوی هم تر اوسه پورې کوم بل پوهنځی نه دی فعال کړی، خو که اجازه ورکړل شي، ځینې نور پوهنځي به هم فعال کړي او محصلین به ورته جذب کړي. ښاغلی جمال الدین وايي چې حقوقو پوهنځی یې دوه ډېپارټمنټونه (قضا او څارنوالي او اداره او ډیپلوماسي) او اقتصاد پوهنځی یې هم دوه ډېپارټمنټونه (بي بي اې او بي بي اي) لري.

د خورشید د لوړو زده کړو موسسې علمي مرستیال وايي، د فعالیت په لومړي کال یې دواړو فعالو پوهنځیو ته د ۲۰۰۰ په شاوخوا کې نوي محصلین جذب کړل، خو وروسته وروسته یې د جذب کچه کال په کال را ټیټه شوې ده. دی وايي، اوسمهال په کلني ډول د ۳۰۰ په شاوخوا کې نوي محصلین جذبوي. په خورشید د لوړو زده کړو موسسه کې د ورځې په څلورو وختونو کې محصلین د زده کړو لپاره را غوښتل کېږي. دا چې په خصوصي پوهنتونونو کې تر ډېره هغه کسان زده کړې کوي، چې د ورځې په اوږدو کې دندې لري او یا هم په کوم دولتي پوهنتون کې زده کړې کوي، نو د پوهنتون اداري هم اړ دي، چې د خپلو محصلینو لپاره د ورځې په بېلابېلو برخو کې د زده کړو زمینه برابره کړي.

ښاغلی جمال الدین وايي چې خورشید د لوړو زده کړو موسسه د نورو خصوصي پوهنتونونو په پرتله د خپلو محصلینو لپاره ځانګړی تخفیف لري. دی وايي، لومړی خو په ټوله کې د محصلینو لپاره تخفیف په پام کې نیول شوی دی، خو په ځانګړې توګه بیا ښځینه محصلینو ته د نارینه‌وو په پرتله ډېر تخفیف ورکوي.

خورشید د لوړو زده کړو موسسې د خپلو محصلینو لپاره د موسسې په د ننه کې مجهز او غني کتابتون جوړ کړی دی. د ښاغلي جمال الدین په خبره، د فعالو دوو پوهنځیو اړوند یې د ۳ زرو په شاوخوا کې اړوند مسلکي او نور اړین کتابونه په خپل کتابتون کې ځای پر ځای کړي دي، څو یې محصلین او استادان مطالعه کړي او خپلې وړتیاوې لوړې کړي. دغه راز یې د آزادې مطالعې لپاره هم ډېر ګټور کتابونه د محصلینو په واک کې ورکړي دي. د فزیکي کتابتون تر منځ خورشید د لوړو زده کړو موسسه یو ډیجیټلي کتابتون هم لري، چې ډېر کتابونه یې پکې ځای پر ځای کړي دي.

د خورشید د لوړو زده کړو موسسې اداره وايي، چې په کور د ننه له ټولو دولتي او خصوصي پوهنتونونو سره ښې اړیکې لري، خو په ځانګړې توګه له البیروني دولتي او افغانستان خصوصي پوهنتون سره د علمي اړیکو هوکړې هم لري. ښاغلی جمال الدین وايي، تر اوسه پورې له هېواده بهر له کوم پوهنتون سره اړیکې نه لري، خو په پام کې لري چې په راتلونکې کې له ځینو بهرنیو پوهنتونونو سره د علمي اړیکو هوکړې ولري، څو خپل فارغ شوي محصلین او ځینې استادان د نورو لوړو زده کړو لپاره ور واستوي او له تجربو یې ګټه واخلي.

د نوموړي په خبره، فارغ شویو محصلینو ته یې تر اوسه پورې هغه ډیپلومونه نه دي ورکړي، کوم چې د لوړو زده کړو وزارت لخوا توضیح کېږي، خو دوی فارغ شویو محصلینو ته د اداري او لوړو زده کړو وزارت لخوا تایید شوې تصدیق پاڼې ورکوي، چې محصلین کولای شي چې د دې تصدیق پاڼو پر مټ په کومه اداره کې دنده واخلي او یا هم نورې لوړې زده کړې ور باندې وکړي.

د ښاغلي جمال الدین په خبره، د لوړو زده کړو په موسسه کې یې د محصلینو لپاره ټول هغه امکانات برابر کړي، چې یو پوهنتون او یا هم د لوړو زده کړو یوه موسسه یې باید ولري. اونیز او میاشتني ورکشاپونه، سمینارونه او غونډې هغه څه دي چې د محصلینو د وړتیا لوړولو لپاره یې دایروي. دغه راز یې محصلینو ته د نظري زده کړو تر څنګ د عملي زده کړو زمینه هم برابره کړې ده، څو مسلکي او تجربه لرونکي کسان ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړي.

د استادانو علمي سویه لوړول، په ملي او نړیواله کچه د موسسې علمي کیفیت لوړول، د نورو پوهنځیو ایجادول، له موسسې څخه پوهنتون ته ارتقاع کول او په ځینو پوهنځیو کې د ماسترۍ پروګرام پیلول د خورشید د لوړو زده کړو موسسې راتلونکي پلانونه دي.

د دې موسسې اداره د لوړو زده کړو وزارت له کړنو خوښه ده او په وینا یې دغه وزارت باید خصوصي پوهنتونونه تر څار لاندې ونیسي، څو ټول خصوصي پوهنتونونه د لوړو زده کړو وزارت له مقرراتو سره سم فعالیت وکړي. دوی د لوړو زده کړو وزارت د تضمین کیفیت پروګرام ستايي چې په خبره یې په دې کار سره به د فعالو او غیر فعالو پوهنتونونو تر منځ توپیر وشي. د دې موسسې علمي مرستیال وايي، چې د قانون د مادې له مخې، لوړو زده کړو وزارت باید له خصوصي پوهنتونونو څخه څار وکړي او تر څنګ یې هغه امکانات ورته برابر کړي، چې له مخې یې خصوصي پوهنتونونه پرمختګ کولای شي او پر خپلو پښو ودرېږي.

خصوصي پوهنتونونه نن سبا په ټوله نړۍ کې دود دي، چې د لوړو زده کړو وزارت په چوکاټ کې له دولتي پوهنتونونو سره څنګ پر څنګ فعالیت کوي او خلکو ته یې د لوړو زده کړو زمینه برابره کړې ده. اوسمهال تر ډېره د نړۍ په کچه هغه پوهنتونونه چې په رنکېنګ یا درجه کې دي، ډېری یې خصوصي پوهنتونونه دي. په افغانستان کې هم له ۲۰۰٦ کال راهیسې د لوړو زده کړو وزارت په چوکاټ کې خصوصي پوهنتونونو هم فعالیت پیل کړی دی، چې ان د ماسترۍ تر کچې پورې پکې لوړې زده کړې کېږي. ځینې پوهنتونونه یې ښه ځلېدلي، خو د خلکو په خبره، د ځینو د زده کړو کیفیت ښه نه دی. د دې هر څه تر څنګ، ځینې خصوصي پوهنتونونه له لوړو زده کړو وزارت څخه شکایت کوي، چې د پرمختګ په برخه کې ور سره همکاري نه کوي او ځینې داسې طرحې یې ورته وضع کړې دي، چې خصوصي پوهنتونونه یې په پلي کولو کې پاتې راځي او په اوس وخت کې یې د پرمختګ مخه نیسي. لوړه مالیه اخیستل هم د خصوصي پوهنتونونو په مخ کې بل هغه خنډ دی، چې د پرمختګ مخه یې ډپ کړې ده.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۶,۸۰ |
| € | ۸۹,۳۰ |
| Rp. | ۴۷۵ |
| ₹ | ۱۰۴۰ |
| ¥ | ۱۰,۵۰ |
| £ | ۹۸,۲۰ |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# چطور خطر ابتلا به بیماری‌های قلبی را کاهش دهیم؟

احمد فردوسی

بیماری‌های قلبی یکی از شایع‌ترین علل مرگ‌ومیر در جهان هستند. کنترل برخی عوامل افزایش‌دهنده‌ی خطر ابتلا به بیماری‌های قلبی از جمله سن، جنسیت و سابقه‌ی خانوادگی ممکن نیست، اما می‌توان بخشی از عوامل خطرزا را با رعایت اقدامات پیشگیرانه کنترل کرد. اقدامات پیشگیرانه‌ای که در کاهش خطر ابتلا به بیماری‌های قلبی نقش دارند، عموماً به سبک زندگی و عادت‌های رفتاری مربوط می‌شوند. در ادامه‌ی این مقاله با راهکارهایی آشنا خواهید شد که موجب کاهش خطر ابتلا به بیماری‌های قلبی می‌شوند و توسط خود فرد انجام‌پذیر هستند.

۱.مصرف دخانیات اکیدا ممنوع

مصرف دخانیات از جمله سیگار، یکی از مهم‌ترین عوامل افزایش‌دهنده‌ی خطر ابتلا به بیماری‌های قلبی است. مواد شیمیایی موجود در تنباکو به قلب و رگ‌های خونی آسیب می‌رسانند. این مواد موجب تجمع پلاک‌ها در داخل رگ‌های خونی و در نتیجه، تَصَلُّب شرایین (atherosclerosis) یا همان گرفتگی عروق می‌شوند که خود زمینه‌ساز بروز حملات قلبی است.

کربن مونواُکسید موجود در دود سیگار، جایگزین مقداری از اکسجن خون می‌شود. این جایگزینی به افزایش فشار خون و ضربان قلب می‌انجامد، چرا که قلب به منظور تأمین اکسجن کافی، فشار بیشتری را متحمل خواهد شد. همچنین، خطر بروز حملات قلبی و سکته در زنان سیگاری‌ای که قرص ضدبارداری مصرف می‌کنند در مقایسه با زنان غیرسیگاری‌ای که قرص ضدبارداری مصرف نمی‌کنند، بیشتر است، زیرا سیگار و قرص ضدبارداری هر دو موجب افزایش خطر لخته شدن خون می‌شوند.

چنانچه قصد دارید از ابتلا به بیماری‌های قلبی در امان بمانید، لازم است به کلی از دخانیات دوری کنید. شکی نیست که هر چه بیشتر سیگار بکشید، خودتان را در معرض خطر بیشتری قرار می‌دهید. تنباکوی بدون دود، سیگار با قطران کمتر و کم‌نیکوتین و دود دست دوم (دودی که اطرافیان سیگاری‌ها استنشاق می‌کنند) نیز خطرزا هستند. حتی سیگار کشیدن تفریحی در موقعیت‌های خاص، مثلاً فقط در مجالس و مهمانی‌ها، نابخشودنی است.

سیگاری‌ها مطمئن باشند که در مدت کوتاهی پس از ترک سیگار، از خطر ابتلا به بیماری‌های قلبی کاسته خواهد شد. فقط یک سال پس از ترک سیگار، خطر ابتلا به بیماری عروق کرونری قلب به طرز قابل توجهی کاهش می‌یابد. جالب است بدانید ۱۵ سال پس از ترک سیگار، خطر ابتلا به این بیماری در فردی که قبلاً سیگاری بوده تقریباً برابر فردی می‌شود که هیچ‌وقت در عمرش لب به سیگار نزده است. فرقی نمی‌کند روزی چند نخ سیگار می‌کشید یا چه مدت سیگاری بوده‌اید، در هر صورت به محض ترک سیگار از فواید زندگی بدون دخانیات بهره‌مند خواهید شد.

۲. ۳۰ دقیقه ورزش در اغلب روزهای هفته

ورزش منظم روزانه موجب کاهش خطر ابتلا به بیماری‌های قلبی می‌شود. تأثیر فعالیت جسمانی روی سلامتی چنانچه با دیگر شاخصه‌های سبک زندگی نظیر حفظ وزن ایده‌آل همراه شود، به مراتب فوق‌العاده‌تر خواهد بود. فعالیت جسمانی علاوه بر اینکه به کاهش وزن کمک می‌کند، در کاهش خطر ابتلا به بیماری‌های زمینه‌ساز بیماری‌های قلبی از جمله فشار خون بالا، کلسترول بالا و دیابت نیز مؤثر است.

وزارت صحت و خدمات انسانی ایالات متحده‌ی آمریکا به ۱۵۰ دقیقه فعالیت هوازی ملایم در هفته، ۷۵ دقیقه فعالیت هوازی سنگین در هفته یا ترکیبی از هر دو توصیه کرده است. با ۳۰ دقیقه ورزش ملایم، مثلاً پیاده‌روی تُند، ترجیحاً در اغلب روزهای هفته، می‌توانید به مقدار ورزش توصیه شده در هفته عمل کنید. چنانچه تمایل دارید از فواید سلامتی بیشتری بهره‌مند شوید، هفته‌ای ۳۰۰ دقیقه ورزش هوازی ملایم یا ۱۵۰ دقیقه ورزش هوازی سنگین انجام دهید. همچنین مطلوب است دو تا سه بار در هفته، تمرینات ورزشی قدرتی کار کنید. اما اگر به هر دلیلی نمی‌توانید به مقدار توصیه شده ورزش کنید، باز هم ناامید نشوید و هر قدر که امکانش را دارید ورزش کنید، حتی اگر کم و مطمئن باشید که ورزش کمتر از مقدار توصیه شده نیز برای سلامت قلب مفید خواهد بود. البته می‌توانید به جای اینکه ۳۰ دقیقه ورزش کنید، این ۳۰ دقیقه را به سه قسمت تقسیم کرده و در اغلب روزهای هفته، سه وعده‌ی ۱۰ دقیقه‌ای ورزش کنید تا از همان مقدار سلامت قلب که گفته می‌شود در نتیجه‌ی ورزش به مقدار توصیه شده به دست خواهد آمد، برخوردار شوید.

چنانچه سختی تمرینات ورزشی، طول مدت ورزش و تعداد دفعاتی را که در هفته ورزش می‌کنید، افزایش دهید، فواید بیشتری از ورزش کردن نصیب‌تان خواهد شد.

۳. تغذیه‌ی سالم

تغذیه‌ی سالم موجب کاهش خطر ابتلا به بیماری‌های قلبی می‌شود. رژیم غذایی کاهنده‌ی فشار خون، موسوم به دَش (DASH)، و رژیم غذایی مدیترانه‌ای از جمله رژیم‌های مفید برای سلامت قلب به شمار می‌روند.

میوه‌ها، سبزیجات و غلات کامل به حفظ سلامت قلب کمک می‌کنند. مصرف لوبیا، لبنیات کم‌چرب یا بدون چربی، گوشت کم‌چرب و ماهی نیز توصیه می‌شود. اما لازم است از مصرف بی‌رویه‌ی نمک و شکر پرهیز کنید. همچنین کاهش مصرف برخی چربی‌ها ضرورت دارد. انواع مختلف چربی عبارت‌ند از چربی‌های اشباع، چربی‌های غیراشباع چندحلقه‌ای، چربی‌های غیراشباع تک‌حلقه‌ای و چربی‌های ترانس. از این میان، سعی کنید مصرف چربی‌های اشباع و ترانس را به حداقل برسانید. مقدار مجاز چربی‌های اشباع در کالری روزانه ۵ تا ۶ درصد است، اما توصیه می‌شود چربی‌های ترانس را به طور کل از رژیم غذایی خود حذف کنید. اما نیازی نیست که رژیم غذایی خود را از تمامی انواع چربی‌ها خالی کنید. چربی‌های سالم برگرفته از منابع با پایه‌ی گیاهی نظیر آووکادو، مغزها، زیتون و روغن زیتون موجب کاهش کلسترول مضر و در نتیجه، بهبود سلامت قلب می‌شوند.

مطلوب است روزانه ۵ تا ۱۰ واحد میوه و سبزیجات مصرف کنید. مصرف میوه و سبزیجات به اندازه‌ی کافی نه تنها در پیشگیری از بیماری‌های قلبی مؤثر است، بلکه به تنظیم فشار خون، کلسترول و دیابت نیز کمک می‌کند. علاوه بر میوه و سبزیجات، مصرف دو یا بیشتر از دو واحد ماهی سالمون یا تُن در هفته موجب کاهش خطر ابتلا به بیماری‌های قلبی می‌شود.

۴. وزن ایده‌آل

اضافه وزن به ویژه در میانسالی خطر ابتلا به بیماری‌های قلبی را افزایش می‌دهد. چاقی در بروز بیماری‌های زمینه‌ساز بیماری‌های قلبی از جمله فشار خون بالا، کلسترول بالا و دیابت نقش دارد. سندرم متابولیک نیز خطر ابتلا به بیماری‌های قلبی را افزایش می‌دهد. سندرم متابولیک به مجموعه شرایطی از قبیل چاقی دور شکم، قند خون بالا، فشار خون بالا و تری‌گلیسیرید بالا گفته می‌شود که همگی در ردیف عوامل افزایش‌دهنده‌ی خطر ابتلا به بیماری‌های قلبی قرار دارند.

# د غذایي امنیت ائتلاف: له ۱۱ میلیونو ډېر افغانان بیړنیو خوراکي مرستو ته اړتیا لري

د افغانستان د غذایي امنیت او تغذیې لپاره د مدني ټولنو ائتلاف وایي چې په افغانستان کې څه د پاسه ۱۱ میلیونه کسان بیړنیو خوړو ته اړتیا لري چې درې نیم میلیونه یې ماشومان دي.

د افغانستان د غذایي امنیت او تغذیې لپاره د مدني ټولنو ائتلاف د خوړو د نړیوالې ورځې په مناسبت په خپره کړې اعلامیه کې ویلي، د ملګرو ملتونو پرمختیایي هدفونه وړاندوینه کوي چې تر ۲۰۳۰ ز کاله باید هېڅوک د شپې په لوږه ویده نه شي او هېڅوک باید له لوږې مړه نه شي، خو سرچینه وایي چې په افغانستان کې میلیونونه کسان له فقر او خوارځواکۍ سره مخ دي او سالمو خوړو ته لاسرسی نه لري.

خبرپاڼه زیاتوي: «د هېواد څه د پاسه اته میلیونه وګړي او درې نیم میلیونه ماشومان بیړنیو خوړو ته اړتیا لري او د څېړنو او تحقیقاتو له مخې، په راتلونکي کې به دغه کچه تر پنځلس میلیونو هم پورته لاړه شي.»

سرچینه وایي چې په افغانستان کې روانې جګړې د خلکو پر ژوند سختې منفي اغېزې کړې چې له امله یې سالمو خوړو ته لاسرسی نه لري. دغه ائتلاف وایي چې د افغانستان حکومتي چارواکي باید د جینوا په راتلونکي کنفرانس کې د افغانستان د خوړو مسئله په جدي توګه یاده کړي، ترڅو دغه ستونزه هواره شي.

د یاد ائتلاف مشر لعل ګل لعل وایي، سره له دې چې په افغانستان کې خلکو ته پوره غذایي توکي نه رسیږي، د جګړو له امله د خپلو کورونو پرېښودو ته هم اړ شوي دي. هغه زیاته کړې: «له حکومت، نړیوالو مرستندویه هېوادونو، ملي او نړیوالو مؤسسو په خاصه توګه د ملګرو ملتونو نه په کلکه غوښتنه کوم چې په دې سختو شرایطو کې د همېش په شان د اړمنو افغانانو مرستې ته را وړاندې شي او هېوادوال له انساني ناورین نه وژغوري.»

د یادونې ده چې د نورو خپرو شویو راپورونو له مخې، د افغانستان له نیمایي څخه ډېر وګړي، د ورځې له یوه ډالر نه کم عاید لري او د بېوزلۍ تر کرښې لاندې ژوند کوي.

# سیمه‌ییز چارواکي: د لښکرګاه په وروستۍ جګړې د ملکیانو په ګډون له درې سوو ډېر کسان وژل شوي دي

د هلمند سیمه‌ییز چارواکي وایي، له تېرو لسو ورځو راپه دېخوا لښکرګاه ته نږدې د پیل شوې جګړې له امله د ملکیانو په ګډون له ۳۰۰ ډېر کسان مړه شوي دي.

د هلمند والي جنرال یاسین خان خبریالانو ته ویلي چې په یاده جګړه کې نږدې درې سوه طالبان او اووه ملکیان وژل شوي او نږدې ۳۰ افغان سرتېرو ته هم مرګ ژوبله اوښتې ده.

نوموړي زیاته کړې: «طالبانو د هلمند په جګړه کې درانه تلفات لیدلي. تر ۳۰۰ زیات یې وژل شوي، زموږ دفاعي قواوې د ۳۰ په شاوخوا کې تلفات لري او د ملکي خلکو د اووه تنو د وژل کېدو راپور لرو، دا مهال لوی ګواښ د سړک د غاړې د



ماینونو دی چې افغان ځواکونو یې د له منځه وړلو هڅې پیل کړې تر څو د تګ راتګ لارې په لومړي ګام کې امن شي.»

دا په داسې حال کې ده چې د هلمند له جګړې څخه لس ورځې تېرېږي، خو لاهم د دغه ولایت مرکز لښکرګاه ښار او تر څنګ یې د نادعلي، ګرشک او ناوې ولسوالیو مرکزونه د وسله والو تر محاصرې لاندې دي او لویې لارې هم سقوط شوې دي.

په ورته وخت کې د هلمند یوې امنیتي سرچینې د نوم نه ښودلو په شرط امریکا غږ ته ویلي چې له تېري پنجشنبې راهیسې جګړه په ناوې ولسوالۍ کې سخته شوې ده.

سرچینې زیاته کړه چې دامهال یوازې د ناوې ولسوالۍ مرکز د حکومتي ځواکونو په لاس کې دی او وسله وال طالبان د افغان ځواکونو پر وړاندې مقاومت ته لاهم دوام ورکوي، خو امنیتي چارواکي بیا وایي چې په ټوله کې د جګړې فشار کم شوی دی.

بلخوا په لښکرګاه ښار کې بند پاتې زرګونه کسان د تګ راتګ د خوندي لارو غوښتنه کوي. د لښکرګاه ښار اوسېدونکي نور احمد امریکا غږ ته ویلي چې د لښکرګاه – کندهار د لویې لارې سقوط زرګونه کسان له ګڼو ستونزو سره مخ کړي.

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL
PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

یکشنبه د ۱۳۹۹ د تلې ۲۷مه | د ۲۰۲۰ د اکتوبر ۱۸مه |۶۱۲مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۳ | ۲٤ | ۲۸ | ۲٥ | ۳۱ | ۲۷ |
| ۷ | ٥ | ۱۲ | ۱۰ | ۱٦ | ۱۳ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۳۸ | لمر ختل ۰٦:۰۰ | ماسپښين ۱۱:۳۹ | مازیګر ۰۲:۵۰ | ماښام ۰٥:۱۷ | ماخوستن ۰٦:٤۰


## نړۍ



راپورونه: د اذربایجان او ارمنستان ترمنځ په تازه نښتو کې ۵۲ کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده

۳

## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې نږدې څلوېښت میلیونو ته ورسېدې



د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې د کرونا ویروس د مثبتو پېښو شمېر ۳۹ میلیونه او ٦۸۹ زره او ۹۷۸ ته رسېدلې دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې دمه یو میلیون او ۱۱۰ زره او ٦۱۲ کسان مړه شوي او نږدې ۳۰ میلیونه ترې بېرته رغېدلي دي.

د یادو شمېرو پر اساس، د امریکا متحده ایالتونه د کرونا د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له کبله د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. په دغه هېواد کې د یاد ویروس مثبتې پېښې اته میلیونه او ۲۹٦ زره او ۲٤۹ ته رسېدلې او ۲۲۳ زره او ۷۳۰ نور امریکایان یې مړه کړي دي.

له امریکا وروسته هند د کرونا وبا د اووه میلیونه او ٤٤۲ زره او ۹۲٤ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د پنځه میلیونه او ۲۰۱ زره او ۵۷۰ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېیم، روسیه د یو میلیون او ۳۸٤ زره او ۲۳۵ مثبتو پېښو له کبله د نړۍ څلورم او هسپانیا د ۹۸۲ زره او ۷۲۳ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د کرونا ویروس ډېرې مثبتې پېښې پکې ثبت شوې دي.

ارجنټاین، کولمبیا، پیرو، مکسیکو او فرانسه په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا وبا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## اروپايي ټولنه: ترکیه دې په مدیترانې سمندرګي کې له پاروونکو اقداماتو ډډه وکړي

اروپایي ټولنې په مدیترانې سمندرګي کې د ترکیې په پاروونکو او یو اړخیزو اقداماتو سختې نیوکې کړي او خبرداری یې ورکړی که انقره خپل چلن بدل نه کړي، سخت بندیزونه به پرې ولګول شي.

دا په داسې حال کې ده چې د مدیترانې سمندرګي په ختیځ کې د تېلو زېرمې د ترکیې او د اروپایي ټولنې د دوو غړو یونان او قبرس تر منځ سختې لانجې رامنځته کړې. د اروپایي ټولنې مشرانو په بروکسل کې د دې لانجې په اړه بحث کړی دی.

ترکیې سره له دې چې نړیوالې ټولنې ترې غوښتي د مدیترانې له ختیځه ووځي، یو ځل بیا خپله یوه لویه بېړۍ دغو اوبو ته لېږلې ده. د اروپایي ټولنې د ۲۷ غړو هېوادونو مشرانو په دې ناسته کې یوه ګډه اعلامیه صادره کړې ده. په ګډه اعلامیه کې له ترکیې غوښتل شوي چې له خپلو دغو فعالیتونو تېره شي او له یونان او قبرس سره یووالې له سره پیل کړي.

په ورته وخت کې ترکیې بیا ټینګار کړی چې د خپلو حقونو د ترلاسه کولو لپاره به له ټولو ممکنه لارو چارو کار واخلي. د یاد هېواد د بهرنیو چارو وزیر مولود چاووش اوغلو ویلي چې دوی به د هېچا ګواښونو ته پام ونه کړي.

## منابع: ۵۰ تن از اعضای ولسی جرگه غیرحاضران دایمی اند



منابع از ولسی جرگه افغانستان می گوید، بطور میانگین پنجاه تن از اعضای این جرگه غیر حاضران دایمی اند و حتی شش الی هشت ماه می شود که در نشست های این جرگه حضور نیافته اند.


بعد از نشر گزارشات مبنی بر عدم حضور چهارده ماهه رنګینه کارگر نماینده مردم فاریاب و پرداخت کامل امتیازات اش ازسوی خانه ملت؛ اکنون حضور و عدم حضور نمایندگان مردم در جلسات ولسی جرگه با واکنش های مردم و نمایندگان ملت مواجه شده است. در این میان عباس ابراهیم زاده نایب دوم ولسی جرگه، میر رحمان رحمانی را متهم می کند که نمایندگان نزدیک به رئیس ولسی جرگه نیز سالها می شود در خانه ملت حضور ندارند.

به گفته عباس ابراهیم زاده، شماری از وکلا سالها می شود در ولسی جرگه حضور ندارند و از این رو همه روزه در جلسات عمومی نصاب برای رای گیری تکمیل نمی باشد. وی می گوید این افراد بیشتر از نزدیکان میر رحمان رحمانی رئیس ولسی جرگه می باشد و باید نمایندگان غایب برای یک دوره از ولسی جرگه اخراج شوند.

با این حال منابع از ولسی جرگه هم تائید می کنند که هیات اداری در مورد حاضری نمایندگان ولسی جرگه بی توجه اند وهیچ گونه اقدامی اصلاحی برای وکلای که حضور ندارند، روی دست نگرفته است. منابع از ولسی جرگه در گفتگو با سیحون نیوز می گویند، این جرگه حتی به وکلا و کارمندان که حضور ندارند معاش می پردازد.


## ژوند

## د کارنده مالي مدیر ځانګړنې کومې دي؟




د څېړنو له مخې، ټول کارنده او بریالي مالي مدیران دغه ځانګړنې لري: د عملیاتي طرحې لرل؛ هغه کسان چې د لوړ مالي هوښ څښتنان دي، د خپلو مالي برخو لپاره جامع عملیاتي طرحې لري او د عملي کولو لپاره یې ورځني پروګرامونه په پام کې نیولي وي. خپل لس سلنه عواید سپموي؛ لومړنۍ هڅه یې دا وي چې لږ تر لږه خپل لس سلنه عواید سپما کړي. دوی په دې پیسو یا پانګونه کوي او یا یې په مناسب وخت کې پر یو اړین کار لګوي. پورونه خپلې وروستۍ کچې ته را ټیټوي؛ هغه کسان چې له لوړ مالي هوښ څخه برخمن دي، پوهېږي چې قرض ډېر درووند بار دی او په راتلونکي کې یې د پانګې پر کچه بده اغېزه کوي. دوی په دې هڅه کې وي چې خپل پورونه وروستۍ کچې ته را ټیټ کړي. له دې سره سره که قرض کولو ته هم اړ شي، داسې ګام پورته کوي چې په ګټه یې تمام شي او د پور خلاصولو سره سره یې ګټه هم کړې وي، نه داسې چې پور کړې پیسې په خپله خېټه واچوي.

## سامسُنګ د اېف لړۍ لومړنی ځیرک موبایل معرفي کړ




سامسُنګ کمپنۍ تر اوږد ځنډ وروسته د اېف لړۍ لومړنی ځیرک موبایل معرفي کړ. دغه ځیرک موبایل ګلکسي اېف۴۱ نومول شوی او ډېره پیاوړې بېټرۍ لري. دغه ځیرک موبایل ٦,۲ انچه سوپر امولېډ ډوله مخپاڼه لري چې د انډراېډ۱۰ عامل سیسټم سره به خرڅلاو ته وړاندې شي. ګلکسي اېف۴۱ کې د سامسُنګ کمپنۍ اګزینوس۹٦۱۱ ډوله پروسېسر، ٦ ګیګابایټ رم او ۱۲۸ ګیګابایټ د فایل ثبتونې وړتیا ورکړل شوې چې کاروونکي دغه وړتیا له میموري کارټ کارولو سره تر دې هم لوړولی شي. د دغه ځیرک موبایل تر ټولو د پام وړ ځانګړنه د پیاوړې بېټرۍ لرل دي. ګلکسي اېف۴۱ کې ٦۰۰۰ ملي امپیره وړتیا لرونکې بېټرۍ ورکړل شوې چې له ۱۵ واټ چټک چارج څخه هم ملاتړ کوي. شاتنۍ برخه کې ۳ کامرې لري چې ٦۴ مېګاپکسله اصلي، ۵ مېګاپکسله لایف فوکس او ۸ مېګاپکسله التراوایډ کامرې په کې شامل دي. یوه ۳۲ مېګاپکسله وړتیا لرونکې سېلفي کامره هم لري. دغه ځیرک موبایل تر ټولو وړاندې هندوستان کې خرڅلاو ته وړاندې کېږي او بیه یې ۲۳۱ امریکایي ډالره ټاکل شوې ده.

عزیزي بانک
Azizi Bank
د ازي پې (AZIPAY) پرمختللې بڼه

عزیزي بانک خپلې د ازي پې بڼوې ته پراختیا ورکړې چې تاسو ته پراخ خدمتونه او ګټې لکه: بایومتریک ننوتل-د ګوتې او مخ پېژندنې له لارې، څو ژبې (پښتو، دري او انګلیسي) کارول، د ډالرو کارونه، د صورت حساب او کوچنۍ سټېټمنټ لیدل، د صرافۍ خپلکاره ماشین څخه د ازي پې پرمټ د کارت پرته پیسې وېستل، د مبایل شمېرې ته پیسو استول او د د صرافۍ خپلکاره څخه یې ماشین ترلاسه کول، د مبایل شمېرې ته کریډیټ زیاتول، د بل اداینه او نورې برخې وړاندې کوي
مهرباني وکړئ نوې بڼه یې له اپسټور او پلې سټور څخه ډونلوډ (ښکته) کړئ، د لازیاتو معلوماتو لپاره 1515 شمېرې سره اړیکه ټینګه کړئ.
www.azizibank.af
1515